## د ساهو ليکونکيو مرکه پېښور له خوا

# د مشرانو ورځ

ډاکټر محمد زبېر حسرت

دا يـــاران لکـــه ګلونـــه د بهـــار دي
د خـــزان پـــه بـــاد رژيـــږي دربغـــه دربغـــه

د ساهو ليکونکيو مرکه پېښور پښتونخوا له خوا د مارچ په ۲۳ مه نېټه کال ۲۰۰۹ پېښور پرېس کلب کښې د مشرانو د ورځ په مناسبت راجوړه شوې دستوره د ښاغلي سليم راز د صدارت د لاندې دوه نيمې بجې ماسپښين شروع شوه. د نظامت فرائض د دې کرښو ليکونکي ترسره کړل. د خصوصي مېلمنو په توګه محترم ډاکټر اسرار او بېګم نسيم ولي خان په سټېج موجود وو. دغه رنګ د ساهو ليکونکيو مرکې عمومي سکتر ښاغلے مشتاق مجروح يوسفزے هم د کوربه په حېث د مشرانو ترڅنګه ناست ؤ.

د تلاوت کلام پاک نه وروستو راقم د قلندر مومند(مرحوم) شاهکار نظم د "عالمي ضمير" په نوم واورولو او سيد محمود ظفر صاحب له ئې د قلندر صاحب په فکر و فن د مقالې اورولو بلنه ورکړه. د ظفر صاحب د مقالې عنوان ؤ "لاثاني تنقيد" ؤ. ښاغلي ظفر صاحب خپله مقاله کښې د محترم قلندر مومند صاحب تنقيدي ليکونو ته د اشارې په وخت د هغۀ تنقيدونه د پښتو ادب دپاره غوره وګڼل.




دوې پسې ښاغلي عامر ګمرياني د قلندر صاحب د يو غزل په مصرع خپل استقباليه نظم واورولو. محترم قلندر مومند ښۀ شاعر، ښۀ افسانه نګار، ښۀ صحافي، ښۀ مترجم، غوره محقق او ناقد او د باچا خان د خدائي خدمتګار تحريک ملګرے ؤ.

محترم قلندر مومند (مرحوم) په يکم ستمبر ۱۹۳۰ کښې د صاحبزاده سېف الرحمان په کور بازيد خېل پېښور کښې پېدا شوے ؤ او په ٤ فروري ۲۰۰۳ کښې وفات شو او د پېښور په وزيرباغ کښې خاورو ته وسپارلے شو. (په ګور ئې نُور شه)

په مشرانو کښې دوېم شخصيت شاعر، اديب، تکونکے، محقق، نقاد او نامتو وکيل محترم دوست محمد خان کامل مومند ؤ. د دوې په حلقه به

مصطفٰي کمال خپله مقاله اوروله خو د هغوي د غېر موجودګۍ له کبله زښږحسرت چې په کامل صاحب ئې د پېښور يونيورسټۍ پښتو شعبې نه اہم فل کړےدے، د کامل صاحب متعلق معلومات وړاندې کړل او د هغوي په ژوند، شخصيت او ادبي خدماتو ئې يوه سرسري شان رڼا واچوله. وروستو ښاغلي اقبال مومند د کامل صاحب په ګڼ اړخيز شخصيت خپل ليکلے نظم واورولو چې له اورېدونکيو ئې ډېر داد واخستو. کامل صاحب په ۱۷ ستمبر کال ۱۹۱۵ کښې د محترم فوجون خان په کور پېښور کښې سترګې غړولې دي او په ۲۲ فروري ۱۹۸۱ کښې په پېښور کښې وفات شوےؤ او په ۲۳ فروري په "پښتون ګړۍ" ضلع نوښار کښې خاورو ته وسپارل شو. (په ګور ئې نُورشه)

د مشرانو په دغه ټولګي کښې محترم اميرحمزه شنوارے هم شامل ؤ چې د غزل بابا په نوم شهرت لري، نۀ يواځې ښۀ شاعر ؤ، بلکې يو ښۀ ډرامه نګار، افسانه نګار، ناول نويس، تکونکے او نقاد هم ؤ، دے عملي صوفي ؤ چې د وحدت الوجود د نظريې قائل ؤ. د دوي په ژوند، شخصيت او فن مقاله د ښاغلي ډاکټر يارمحمد مغموم په ذمه وه. ډاکټر صاحب د حمزه بابا په تصوف خپله پرمغزه مقاله واوروله او له دوي وروستو ښاغلي طلبګار خوګياڼي حمزه بابا ته منظومې پېرزوينې وړاندې کړې. امير حمزه خان شنوارے په لوړاګي خيبر ايجنسۍ کښې د بازمير خان ملک په کور کښې په دسمبر ۱۹۰۷ کښې پېدا شوے او په ۱۸ فروري ۱۹۹٤ کښې په لوړاګي کښې په حق رسېدلے او هم هلته خاورو ته سپارلے شوے دے. (په ګور ئې نُور شه)

د محترم ايوب صابر(مرحوم) په ياد کښې د هغوي په ژوند، شخصيت او ادبي خدماتو ښاغلي فرهاد محمد غالب ترين خوښکي خپله بسيطه مقاله د "ايوب صابر ژوند او فن" تر عنوان لاندې واوروله. صابر صاحب ښۀ شاعر، ښۀ نقاد، ښۀ کالم نګار، صحافي او د ازاد نظم د سر په شاعرانو کښې شامل شخصيت د ساهو ليکونکيو مرکې په باني ارکانو کښې شامل ؤ.

د ايوب صابر په ژوند، شخصيت او فن ښاغلي فقير محمد فقير خپل ليکلے نظم واورولو. ايوب صابر په ځنګل خېل کوهاټ کښې د محترم محمد يوسف خان په کور کښې په ۲٤ فرورۍ ۱۹۲۲ کښې پېدا شوےؤ او په ۸ فروري ۱۹۸۹ کښې هم په ځنګل خېل کوهاټ کښې وفات او خاورو ته وسپارلے شو. (په ګور ئې نُور شه)



د مشرانو د دې ډلې پنځم لوئے شاعر، مؤرخ، مصور او مجسمه ساز عبدالغني خان (مرحوم) ؤ چې په ادبي دنيا کښې د لېوني فلسفي په نامه زيات شهرت لري. د لېوني فلسفي غني خان په ژوند، فن او شخصيت خپله مقاله د پښتو څانګې چئيرمېن ښاغلي ډاکټر راج ولي شاه خټک د "غني خان" تر

عنوانه واوروله چې د غني خان د شخصیت ژوند او شاعرئ ټول رنګونه ئې پکښې راغونډ کړي وو. له دې وروستو ښاغلیو غلام حسېن محب او ډاکټر محمد عالم مسعود په غني خان خپل لیکلي نظمونه واورول او د اورېدونکیو نه ئې داد وصول کړو.

غني خان د خان عبدالغفار خان باچا خان، فخر افغان په کور اتمانزو هشنغر کښې په ۱۹۱٤ کښې پېدا شوے او په ۱۵ مارچ ۱۹۹٦ کښې وفات شوے او د اتمانزو په هدیره کښې خاورو ته سپارلے شوے دے. (په ګور ئې نُور شه)

صاحبزاده فیض الرحمان چې په پښتو شعري دنیا کښې د صاحبزاده فیضي په نامه شهرت لري ډېر ښه غزل نګار او د اردو پښتو شاعر ؤ چې د صاحبزاده سیف الرحمان په کور بازیدخېل پېښور کښې په ۱۹۲۲ کښې زیږېدلے او په ۲۱مارچ ۲۰۰۵ کښې وفات شوے او د پېښور په وزیرباغ کښې د قلندر مومند (مرحوم) سره څنګ په څنګ خاورو ته سپارلے شوے دے. (په ګور ئې نُور شه) د فیضي صاحب د ژوند فکر او فن په حقله مقاله محترم مجید الله خان خلیل واوروله چې د فیضي صاحب د ژوند په ډېرو پټو اړخونو ئې رڼا واچوله. د فیضي صاحب په شخصیت نظم محترم سعدالله جان برق واورولو.

سیف الرحمان سلیم د مشرانو د ورځې وروستے شاعر ؤ چې یو روماني، مقصدي او د مزاحمتي رویې شاعر ؤ. شعري مجموعې ئې د ((سندریز شفقونه)) او د ((وړو وړو خدایانو دې بنده کړم)) په نامه چاپ دي. د محترم جمال الدین سېد په کور ګلوزو (داودزو) پېښورکښې په اپرېل ۱۹۲۹ کښې پېدا شوے ؤ او هم په ګلوزو کښې په ۲۰۰٦ کښې وفات او خپله هدیره کښې خاورو ته وسپارلے شو. (په ګور ئې نُور شه) د سیف الرحمان سلیم په حقله محترم ډاکټر اسرار خپل مضمون "سلیم صاحب زما د خوښې شاعر" تر عنوانه واورولو چې د تکل په انداز کښې ئې لیکلے ؤ او اورېدونکیو ترې ډېر خوند واخستو.



د سلیم صاحب په حقله ښاغلیو قاضي حنیف الله او ډاکټر احمد علي عاجز خپل لیکلي نظمونه واورول.

له دوي علاوه د ښاغلي قلندر مومند (مرحوم) په حقله ښاغلیو داد محمد دلسوز او فضل شاه فضل مومند هم خپل لیکلي نظمونه واورول.

د مقاله نګارانو او نظم ویونکیو نه وروستو د پښتنو درنې مشرې مور بي بي بېګم نسیم ولي خان ته بلنه ورکړې شوه چې د مشرانو د ورځې په مناسبت د خپلو زرینو خیالاتو اظهار وکړي. بي بي خپلو خبرو کښې د پښتو، پښتنو او پښتونخوا دې درنو مشرانو ته د مینې، احترام او عقیدت پېرزوینې وړاندې کړې او وې وئیل چې داسې ښهٔ شاعران، ادیبان او پښتانهٔ منورین چرته په صدو

پس پیدا کېږي او بیا چې قامي شاعران وي د هغوي ځائے خو د اولس په زړونو او ذهنونو کښې وي. دوي زياته کړه چې زمونږ حکومت له پکار دي چې په سکولونو کښې تعليم په مورنۍ ژبه کښې لازمي وګرځوي، دوي په پښتونخوا کښې د سوات، باجوړ او وزيرستان کښې د ناوړيو راپېښو هم غندنه وکړه او هيله ئې څرګنده کړه چې حکومت به ډېر په اخلاص ډېر زر دغلته د امن بېرغونه ورپوي او د اور لوګو او بارودو دا ويرژنه او ماتمي فضا به د سپرلو په ورمو او ګلونو معطره کړي.

د بي بي نه وروستو د دې درنې دستورې محترم صدر سليم راز صاحب ته بلنه ورکړې شوه. دوي په خپله صدارتي خطبه کښې ووې چې دا ننني دستوره چې د کومو مشرانو په ياد کښې راجوړه شوې ده، د دې د راجوړونې دپاره د ساهو ليکونکيو مرکې متنتظمينو له داد، ډاډ او مبارکي ورکوم ځکه چې دا ټول زمونږ ډېر درانهٔ، خوږهٔ مشران او د اولسي ادبي جرګې او د ساهو ليکونکيو مرکې باني اراکين وو، هر يو په خپل ځائے ډېر د لوئے مقام څښتن دے څهٔ هم کهٔ په نظرياتي حواله دغه ټول محترم مشران مختلفې نظريې لرونکي وو خو په جرګه او مرکه کښې د پښتو ژبې او ادب، ثقافت او پښتو پښتونولۍ په شديده قامي جذبه راغونډ شوي وو. دوي د پښتونخوا په سياسي حالاتو او ټولنيزه شخړوهم رڼا واچوله او زياته ئې کړه چې پښتنو شاعرانو، اديبانو او سياسي مشرانو د ناوړه عناصرو په لاس ببعت نهٔ دے پکار. دوي دا هم ووې چې زمونږ خپله پښتونخوا کښې مونږ له خپله حکومت او په خپله فېصلې کول ډېر زياتې ضروري دي چې زمونږ د پرېوتي او ښکته زېلې طبقې ژوند په راحته او اسوده شي. پښتونخوا د امن ځانګو شي او د وينې تويولو دا خونړۍ لوبه بنده شي.

د مشرانو د ورځ په دې دستوره کښې د ساهو



ليکونکيو مرکې له خوا په يو تعزيتي قرارداد کښې د پښتو ژبې د شاعر، افسانه نګار، ډرامه نګار، تکونکي محترم محمد اقبال اقبال په وفات ۲۱ مارچ ۲۰۰۹ د ډېر درد غم او خفګان څرګندونه وشوه. د دوي وفات ئې د پښتو ژبې ادب ثقافت، پښتون قام او پښتونخوا دپاره لوئے تاوان وګڼلو او د دوي په حق کښې ئې د مغفرت دعا وکړه.

دغه رنګ چې تېرو ورځو کښې د حضرت عبدالرحمان بابا په مزار کښې کومې چاودنې شوې وې د هغې ئې هم په سختو ټکو کښې غندنه وکړه او دغه چاودنې ئې په پښتو ژبه، ادب، ثقافت، تاريخ

او روحانیت حمله تصور کړه. مرکې مطالبه وکړه چې د وړاندې په شان دې دا وارې هم د افغانستان حکومت د رحمان بابا د مزار د بیا راجوړونې بندوبست وکړي.

هم دې سره د ساهو لیکونکیو مرکې له خوا د مشرانو د نمانځنې د ورځې دا درنه او عظیم الشانه دستوره شپږ نیمې بجې سر ته ورسېده او د مېلمنو تواضع وکړې شوه. دې درنه دستوره کښې د ټولې پښتونخوا د ګُټ ګُټ نه راغلیو ښاغلیو مېلمنو شاعرانو، ادیبانو، استاذانو، ډاکټرانو او پښتنو منورینو شرکت وکړو.